مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۴/۰۴/۲۷

غزل

شوم مجبور چې مجبوري راباندې راغله
له هر لورې بې وسي راباندې راغله

بلواکي نازله شوې په وطن کښې
داسې ښکاري غلامي راباندې راغله

بحث شروع دی د جنت او د شرابو
لوند ګرېوان سره مستي راباندې راغله

په قفس کښې د ژوندون خبرې اورم
چې دا څنګه خپلواکي راباندې راغله

دخزان سیلی وهلی پسرلی دی
چې هوا نن توپاني راباندې راغله

مصطفی پسرلی
26/Apr/2024

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ